روزل شوی نسل
نیکمرغه افغانستان

هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۲۳ ماه عقرب سال ۱۳۹۶

## د پوهنې وزارت نوی سرپرست وزیر معرفي او له پخواني وزیر سره مخه ښه وشوه

د ولسمشر محمد اشرف غني د حکم پر اساس د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو مرستیال ډاکټر محمد ابراهیم شینواری د وزارت د نوي سرپرست وزیر په توګه د یوې غونډې په ترڅ کې، د وزارت کارکوونکو ته ورو پېژندل شو.

پر همدې مهال د پوهنې پخواني وزیر ډاکټر اسدالله حنیف بلخي د وزارت له کارکوونکو سره مخه ښه وکړه او د وزارت له رهبري پلاوي او کارکوونکو یې مننه وکړه، چې په تېرو دوه نیمو کلونو کې یې له ده سره په ورځنیو چارو او د پوهنې په ودې او پرمختګ کې هر اړخیزه مرسته او همکاري کړې ده.

د پوهنې سرپرست وزیر او د عمومي زده کړو مرستیال ډاکټر محمد ابراهیم شینواري د ښاغلي بلخي له هلو ځلو په نېکۍ یادونه وکړه او نوموړی یې یو علمي او لوړ شخصیت وباله. نوموړي زیاته کړه، چې ښاغلی بلخي په ټولنه کې د یو ځانګړی علمي او ټولنیز شخصیت خاوند دی او د ده له علمیت او تجربو څخه به تل د ښوونیز نظام په وده او پیاوړتیا کې ګټه واخلي.

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو مرستیال ډاکټر محمد شفیق صمیم هم په پوهنې وزارت کې د ښاغلي بلخي د هڅو یادونه وکړه او هغه یې یو نېک او لوړ شخصیت وباله.

د غونډې په پای کې د پوهنې نوی سرپرست وزیر ښاغلی ډاکټر محمد ابراهیم شینواری رسما ددې وزارت کارکوونکو ته ورو پېژندل شو.



## اعلان کمک جدید امریکا در بخش چاپ کتب درسی با وزارت معارف

اداره انکشافی ایالات متحده امریکا برای پنج سال آینده در بخش چاپ و توزیع کتب درسی با وزارت معارف کمک میکند. این کمک ۷۵ میلیون دالر امریکایی میشود که طی محفلی در سفارت امریکا در کابل اعلان شد.

هوگولارینس سفیر امریکا در کابل این کمک را تعهد کشورش به معارف افغانستان یاد کرد و تأکید کرد که این کمک ها نشانه دوام همکاری های ایالات متحده امریکا با افغانستان است. او از وزارت معارف خواست که از طریق این کمک کتب درسی کافی را چاپ نمایند تا دیگر شاگردان احساس کمبود کتب را نکنند و همچنان آن را به موقع برای آنها توزیع نمایند. سفیر امریکا اضافه نمود که معارف اساس افغانستان را تشکیل میدهد و برای رشد...

(ص۲)

## پوهنې وزارت کې د سمون د عملي کولو او له فساد سره د مبارزې عملي طرح رامنځته کېږي

د پوهنې وزارت رهبري مجلس په خپله وروستی ناسته کې پر دې بحث وکړ، چې څنګه د سمون د عملي کولو او له فساد سره د مبارزې پر طرحه کار وشي. د پوهنې وزارت سرپرست وزیر ډاکټر محمد ابراهیم شینواري له ټولومعینانو وغوښتل، چې په دې اړه تر خپل حکم لاندې ادارو کې کاري ډلې رامنځته کړي او په

اړه یې رهبري مجلس ته وخت نا وخت مالومات ورکړي.

ده وویل، چې تر دې وروسته به هره اوونۍ دوه رهبري ناستې کېږي، او ولس ته د لا رسېدولپاره به له عامو وګړو سره د کتو لپاره هم وخت مشخص کېږي.

ددې ټولو ترڅنګ غونډې پرېکړه وکړه، چې په همدې اوونۍ کې د ښوونکو د معاشونو او حق الزحمې د ورکړې چاره هم نهایي کړي.

د پوهنې وزارت سرپرست ژمنه وکړه، چې د ولسي او اداري چارو په موخه به شپه او ورځ کار کوي او دمعارف پر وړاندې شته ستونزې به له منځه وړي.

ده په معارف کې د اصلاحاتو او فساد ضد طرحه هم وړاندې کړه، چې ډېر موثر ټکي په کې ځای شوي دي.




د وزارت سرپرست د افغان ترک ښوونځیو د ستونزې په اړه د ولسي جرګې د پوهنې او لوړو زده کړو کمیسیون غونډه کې هم برخه واخیسته.

## افتتاح یک باب مکتب در ولایت ننگرهار

به اشتراک محترم گلاب منگل والی ننگرهار و مسوولان ریاست معارف آن ولایت در حالی که شماری از اعضای محترم شورای ولایتی، استادان و شاگردان نیز حاضر بودند، لیسه ذکور شکی در ولسوالی خیوه ولایت ننگرهار افتتاح و به بهره برداری گذاشته شد.

والی ننگرهار ضمن افتتاح این لیسه، از شاگردان خواست تا در حفظ و مراقبت ساختمان و تجهیزات این لیسه توجه جدی نمایند.

تعمیر این لیسه در یک منزل بصورت اساسی و پخته اعمار شده که دارای ۸ صنف درسی، چهار اتاق اداری، اتاق کنفرانس همراه با ۵۰ پایه کمپیوتر لپ تاب و ۱۶۰ پایه میز و چوکی و سایر ضروریات می باشد که ۵،۱۳ میلیون افغانی از بودجه انکشافی این وزارت هزینه برداشته است.

شایان ذکر است که این لیسه ظرفیت حدود ۱۶۰۰ تن شاگرد را دارا است.



سرمقاله:

# د ۱۳۹۶ کال کلنۍ آزموينې

هغه ډېر مهم او با ارزښته فعاليت چې د هرې ښوونيزې برنامې له سرته رسولو وروسته بايد تر سره شي د لوستل شوي درس آزموينه ده. استادان او ښوونکي بايد د ياد فعاليت د اهميت په باب پوره معلومات ولري، که ښوونکي د ياد فعاليت له اصولو او پرنسيپونو سره پوره بلدتيا او آشنايي ونلري، نشي کولای خپل زده کوونکي په سمه توګه ارزيابي کړي؛ نو د زده کوونکو په باب هر ډول تصميم به يې خامخا ستونزمن او ناعادلانه وي.

درانه ښوونکي بايد دا له ياده ونه باسي، چې په آزموينه کې نه يوازې زده کوونکو د پوهې او په درسونو کې د پرمختګ کچه سنجول کيږي بلکې په خپله ښوونکي هم په غير رسمي توګه د نورو تر قضاوت او ارزونې لاندې راځي، که چې په يوه ټولګي کې زيات شمېر زده کوونکي ناکام وګڼل شي ياده ناکامي نه يوازې د زده کوونکو ناکامي ده بلکې ښوونکي هم ناکام بلل کيږي، ځکه چې ښوونکي په دې نه دي توانيدلي چې درسي محتوا زده کوونکو ته ورسوي او د ټولګي اکثريت زده کوونکي له هغه څخه ګټه پورته کړي هغه ښوونکي چې د يوه وتلي ښوونکي ټول اوصاف په ځان کې ولري، د خپل مسلك له ښېګڼو برخمن وي د هغه مضمون په باب چې تدريس يې کوي پوره معلومات ولري، په خپل مضمون او موضوع پوره حاکميت ولري، د درسي برنامې د وړاندې کولو په وخت کې له درسي ممدو موادو، چارتونو، تجربو، پوهنيزو سفرونو، عصري الکترونيکي وسايلو، کمپيوتري تجربو او سمعي او بصري وسايلو ګټه واخلي هيڅکله يې زده کوونکي د ناکامۍ نمرې نه تر لاسه کوي، د لايقه ښوونکي زده کوونکي هم لايقه وي.

آزموينه يو بهير او وسيله ده، د هر څه د اندازه کولو او ټاکلو لپاره يوې وسيلې ته اړتيا ده د ساري په توګه د اوږدوالي او واټن د اندازه کولو لپاره له متر څخه ګټه اخيستل کيږي او د وزن د معلومولو لپاره له تلې څخه ګټه کيږي، نو په زده کوونکو کې د زده کړې او پوهې د کچې د معلومولو يا دا چې زده کوونکو په يوه تعليمي کال يا يوې تحصيلي دوره کې په کومو مطالبو او موضوعاتو کې څومره پوهه او مهارت تر لاسه کړي د اندازه کولو لپاره له آزموينې او ارزونې څخه کار اخيستل کيږي.

زموږ درانه ښوونکي بايد د آزموينې له ټولو، اصولو، مقرراتو، ډولونو او اشکالو سره پوره آشنايي ولري. د آزموينې د هر ډول او فورم له ښېګڼو او نواقصو څخه خبر وي؛ څو وکولای شي د خپلو زده کوونکو د ارزونې او د هغوی د تعليمي کچې د پرمختګ د معلومولو په وخت کې اشتباه ونه کړي او هغه نمره او درجه چې زده کوونکو ته ورکول کيږي په پوره او بشپړه توګه د زده کوونکو د زده کړې او پوهې د کچې عيني انعکاس او انګازه وي، که چېرې يو ښوونکی خپل زده کوونکي ته د هغه د پوهې له کچې زياتې نمرې ورکوي، نوموړی زده کوونکی د تحصيل په لوړه دوره کې له ستونزو سره مخ کيږي او د خپل ملك د پر مخ بېولو توان نشي درلودلای او په پايله کې د وتلو کسانو په ډله کې موقعيت نشي تر لاسه کولای او ناکاميږي؛ نو ضروري خبره ده، چې ښوونکی د نمرو په ورکولو کې له پوره احتياط څخه کار واخلي او آزموينه بايد داسې تر سره شي چې د آزموينې له بېلا بېلو ډولونو څخه ګټه واخيستل شي؛ څو ټول زده کوونکي وکولای شي د پوښتنو حل ته ورسيږي.

درنوښوونکو! آزموينه د تنبه او فشار وسيله نه ده، نبايد زده کوونکي له هغه څخه ووېرول شي او روحيات يې کمزوری شي. په آزموينه کې د پوهنې لوړ هدفونه بايد و ارزول شي معنی دا چې ښوونکي بايد د درسي پروګرام په اوږدو کې هڅه وکړي، چې زده کوونکي په هغه څه خامخا پوه کړي چې د تعليمي نصاب او پوهنيز پروګرام موخې جوړوي؛ نو اړينه خبره ده، چې د زده کوونکو د ارزيابي په وخت کې دا وسنجول شي چې کوم زده کوونکي په کومه اندازه يادې موخې تر لاسه کړې او د ارتقا وړتيا لري د پورتنيو کرښو له ليکلو يوې پايلې ته رسيږو او هغه دا ده چې ښوونکی مسؤول دی، چې د هر مضمون د تدريس په وخت د هغه مضمون او مطالبو عمده او مهم ټکي او موخې زده کوونکو ته خامخا ور زده کړي او هغوی د موضوعاتو ژورو او پايناوونو ته ورسوي او د آزموينې او ارزونې په وخت د هماغه ارزښتونو او موخو اروزنه وکړي.

## لوګر کې د څلورو ښوونځيو بيارغاونه پيل شوه

د لوګر ولايت په محمدآغې ولسوالي کې د څلورو بېلا بېلو ښوونځيو د ودانيو د بيارغونې او ترميم چارې پيل شوي. دغه ښوونځي د عرفان موسسې له خوا د يو ميليون او درې لکه نهه ديرش زره افغانيو په لګښت د راتلونکي يوې مياشتې په موده کې بيارغول کيږي . په دغو ښوونځيو کې د سفيد سنګ، ګمران، خواجه ويس بابا او رحم آباد د نجونو او هلکانو ښوونځيو ودانۍ شاملې دي.

د لوګر د پوهنې په ډګر کې اوس مهال د ۵۶ نيم ميليونه افغانيو په لګښت د ۳۰ بېلا بېلو پرژو چارې روانې دي . په يادو پروژو کې ۳ ښوونيزو مرکزونو ته د ودانيو جوړول او د ۲۷ نورو ښوونځيو د ترميم چارې شاملې دي . د يادونې وړده،چې په لوګر کې تير کال هم ۲۲ نور ښوونځي د پوهنې وزارت د پراختيايي بودجې له لارې بيا رغول شوې دي.

بقيه صحفه اول

## اعلان کمک جدید...

و بهبود آن باید دولت و نهادهای کمک کننده باهم همکاری های مشترک داشته باشند .

هوگو لارینس رشد معارف را در افغانستان قابل ملاحظه دانسته یاد آور شدند، از آنجایی که این سکتور فعالیت خود را آغاز نموده و تا اینجا رسیده یک دست آورد بزرگ است؛ اما برای کیفیت و جلوگیری از فساد که اساس شرایط کمک های جدید را تشکیل میدهند، باید توجه بیشتر شود.دکتر عبدالله عبدالله رئیس اجرائیه افغانستان که در مراسم اعلان این کمک سخن میگفت از امریکا برای کمک در بخش های مختلف بالخصوص در بخش معارف ابراز قدردانی نمود. وی تعهد کرد که هر دالر کمک شده به گونه شفاف و مؤثر مصرف خواهند شد. آقای عبدالله از سفارت امریکا در کابل هم تشکری نمود که با معارف همکاری میکند و به این اولویت افغانستان توجه بیشتر دارد.

## اثرات مخرب خشونت بر روان اطفال

عبدالصبور غفرانی

بدون شک اطفال امروز ، مسوولیت اعمار فردای جامعه و مملکت را داشته وبه هر پیمانه ایکه به تعلیم و تربیت سالم آنها اهتمام جدی می نمائیم در واقع به همان اندازه شکوفایی آینده کشور را بیشتر از پیش تضمین نموده و زمینه ترقی ورشد همه جانبه کشور را فراهم نموده ایم .یکی از فکتورهای مهمی که در جنب تعلیم و تربیه و فراگیری علم باید به آن توجه صورت گیرد، تربیه و پرورش روانی اطفال می باشد که باید تدریس معلمان در فضای نهایت دوستانه و صمیمانه صورت گرفته و معلمان به هیچ وجه نباید به خشونت و تنبه اطفال متوصل شوند .تنبه و خشونت علیه شاگردان مکاتب به هیچ صورت قابل توجه و قبول وزارت معارف نمی باشد مسوولان نظارت تعلیمی کماکان و بصورت دوامدار شیوه ها و چگونگی تدریس را در مکاتب بررسی نموده واعمال هر گونه خشونت و تهدید را علیه متعلمان مردود می داند .اما با وجود آن باز هم گاه گاهی اثرات خشونت و تنبه شاگردان از سوی معلمان مکاتب دیده می شود. تجارب و استنتاج های علمی گواه آن است که بکار گیری خشونت به ویژه دردوره ابتدائی به مراتب اثر مخرب داشته زیرا تأثیرات سوء بر شخصیت شاگردان در این دوره وارد کرده موقعیت اجتماعی فرد را متزلزل ساخته و اعتماد به نفس آنها را ضعیف و یا کاملاً از بین میبرد و پیشرفت های تحصیلی آنها را خدشه دار می سازد، که آثار تخریش کننده آن در رفتار ، کردار و موقف اجتماعی و شخصیتی فرد تا آخر عمر باقی می ماند. از جانبی دیگر چنانچه دیده شده خشونت علیه شاگردان درمکاتب هیچگاه تاثیرات تربیتی همیشگی و دوامدار نداشته موقتاًباعث می شود تا طفل به چنین اعمال مبادرت نه ورزد و سبب اذیت و آزار همصنفان و مختل شدن درس در صنف نگردد. فردیکه در صنف و مکتب مورد خشونت قرار میگیرد قسمی که دربالا یاد آوری کردیم اعتماد به نفس را از دست داده ، شخص زبون ، خجالتی ،بی جرئت، گوشه گیر، افسرده و مکتب گریز به بار می آید ، علاقمندی به درس و ادامه تحصیل نداشته و در برابر وقایع و امور زنده گی فردی خویش نیز ضعیف عمل نموده و با اطرافیان بی تفاوت و پرخاشگر بوده و هرگونه ابتکار و خلاقیت عمل را از دست می دهند. با توجه به اثرات ناگوار و آسیب زای خشونت و تنبه شاگردان در مکتب که به روان آنها صدمات شدید را وارد می کند وزارت معارف نیز هر گونه فشار ، زورگویی و خشونت را علیه اطفال در مکاتب ، به خصوص شاگردان دوره اصول صنفی را مردود دانسته و باور دارد که یکی از شیوه های تربیتی همانا به کارگیری اساسات واصول روانشناسی تربیتی کودکان و نوجوانان بوده است



که می تواند نتایجی مطلوبی به تربیت سالم اطفال که آینده سازان جامعه اند ، به جا بگذارد. وزارت معارف مصمم است که توصل به لت وکوب فزیکی و وارد نمودن فشار های روانی بالای شاگردان به هیچ وجه ممد ومؤثر واقع نه شده و حتا اثرات معکوس هم به جا می گذارد. موضوع جلو گیری از خشونت در مکاتب در لوایح ومقررات این وزارت به صورت بسیار واضح وضاحت یافته و در صورت ضرورت و تخطی متعلم ،اداره مکتب در همکاری با کمیته والدین شاگردان مکاتب مربوطه ، وظیفه دارند تا مشکلات شاگردان را در مطابقت به اصول و قواعد موجوده بررسی نموده وحل وفصل نماید . تا باشد جوانان و نسل های آینده ما با اعتماد و عزت نفس و داشتن خلاقیت و استعدادهای انکشاف یافته در عمران و نوسازی کشور عزیز مان سهم مصممانه خویش رابه وجه احسن انجام دهند.

# غزل

ښه پرې پوهيږو چې خطر په کې د سر دی زموږ
په بې باورو باندې بيا ولې باور دی زموږ؟
ښه ځنګه والوزو زخمې، زخمې وزر دی زموږ
ژوند يو سفر دی او نيمګړی دا سفر دی زموږ
قصور د سترګو دی او ښکيل په کې نظر دی زموږ
سينه شپېلۍ، شپېلۍ قطره ، قطره ځيګر دی زموږ
موږ ملنګان يوو ځکه تار د يارانو غزوو
موږ بې هنره يوو همدغه لوی هنر دی زموږ
خلك چې وخاندي نو پوه شوو چې اختر دی په دوئ
خلك چې وژاړي نو پوه شوو چې اختر دی زموږ
د محبت وړې يوو ځار ستا په راتګ ژوندي يوو
که نه باچا وپوښته دی په حاَل خبر دی زموږ

رالیږونکی: محمد عباس

# حرمان

پاره سازم سینه را از دوری و حرمان تو
تا مگر بیرون برآید از دلم ارمان تو
جان بلب در بستر هجرت نشستم انتظار
تا بیا یی جان سپارم من به یک پرسان تو
بوسه ءکردم طلب تو جان من کردی طمع
من فدای قامت و این قیمت ارزان تو
مدت شد رفته بودی یک نظر باز آمدی
تا بیابی در چه حال است عاشق حیران تو
عاشقی آن نیست که از خاطر روی یک لحظه دور
تا که من باشم ؛دل من هست سرگردان تو
مینشینم من به امید وصالت روز و شب
تا شود مویم سفید اندازه دندان تو
تو اگرچه رفتی از من ؛سال ها اندر سفر
نگزرم گر سر رود من از سر پیمان تو
با (حبیب) ات هر قدر خواهی جفا کن بعد ازاین
بر جفایت من خوشم سوگند بر چشمان تو

ارسالی:شعیب ورسجی

# غوره وینا وې

۱ ــ که چېرې هيله من يې، چې درد او کړاو دې ښه او غوره پايله ولري، نو هېڅکله د ښوونکو خبرې خوارې او بې ګټې مه ګڼه او له فرمان څخه يې سر غړونه مه کوه .

۲ ــ په ډېرو خبرو خپل درنښت له منځه مه وړه .

۳ ــ د انسان له پاره تر ناپوه دوست، پوه دښمن ډېر غوره دی .

٤ ــ ښکلی او د ښې راتلونکې لرونکی کس هغه څوك دی، چې عادل، نېك نومی او په خپل چال چلند کې د غوره تګ لارې لرونکی وي .

٥ ــ تر ټولو ستره پوهه د الله (ج) عبادت دی .

٦ ــ ټول دغه څلور څيزونه لټوي، خو ټول نه شي موندلای : روغه سټه، رښتينولي، خوشالي، او رښتينی ملګری .

٧ ــ که چېرې له ژوند څخه پورته کوم څه شتون ولري، نو روغتيا ده او که چېرې هغه ته ورته کوم څيز پيدا شي، بې اړتيايي او د طبيعت لوړوالی دی .

٨ ــ که چېرې ټول خلك د په زړه پورې خبرو د کولو وړتيا نه لري، نو لږ تر لږه د چوپتيا له ساتلو څخه به عاجز نه وي .

٩ ــ تقوا، پرهېزګاري ( له چا څخه تمه نه لرل ) او تېرېدنه هغه شيان دي، چې ژوند ورباندې آسانيږي .

١٠ ــ پوهان او پاك زړي کسان پوهيږي، چې د ژوند موده اوږده نه ده . د انسان جسم له دې او روح يې له بلې نړۍ سره تړاو لري

رالیږونکی: نجیم

# ولور

سرمؤلف مرستیال استاذ عنایت الله (عادل)

د دريو رواجونو تر سرليك لاندې مطلب دوهمه برخه موپه تيره ګڼه کې چې ( د بدل واده) موضوع وه خپره کړه دا دی د همدی مطلب په دوام په دريم رواج باندې چې د ولور موضوع ده له تاسودرنو لوستونکو سره شريك وو.

زموږ د ټولنې بله لويه ستونزه ولور دی، چې ټول ځوانان ورسره لاس اوګرېوان دي، که اسلامي تاريخ ته نظروکړو نواسلام ورته لس درهمه اندازه ايښې ده اوزموږ پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته به چې کوم صحابی راغی نو ورته و به يې ويل، ايا مهرلرې؟ که صحابي به ورته د نه ځواب ورکړ، نو ورته و به يې ويل، چې له قرآن نه څه حفظ لرې ؟ هو ورته وبه يې ويل څه ستا مهر د قران پلانی سورت شو اوفرمايي، چې ترټولوغوره هغه ښځه ده، چې ولور (مهر) يې کم وي.

متأسفانه زموږ ولورونه دومره درانه او ډېر دي چې هيڅوك يې توان نه لري، دا ددې سبب شوي چې ځوانان او ځوانانې لاس تر زنې کښيني، نه يوازې دا ولورونه لوړ دي بلکې نور لګښتونه يې يو بل مله ماتی پېټی دی په هوټلونو کې د مسابقې په ډول يو له بل څخه زيات مصارف کوي، چې زموږ په ټولنه کې يې ناخوالې زياتې کړې دي، ځوانان مو په کلونو کلونو ورک وي بيا هم ولور نه شي پوره کولای اوښځې مو په کورناستې وي، پدې تمه چې ولور به يې پوره او د واده له خوښی به برخمنه شي، خو دا هيله هله پوره کيږي، چې دواړه لوريه د ستونزو، کړاوونو او غمونو لخوا ښه و نيښتېځل شي.

زموږ دغه ناسم دود ډېرې ناخوالې را منځته کړې، کله ناکله خو دا دود د لويې رسوايي لامل هم کيږي، ځينې پېغلې لا دېته اړې شي، چې له بل چا سره په خپله خبره وکړي، يا ور سره تېښته وکړي. د دې لپاره چې د ورونو او خويندو دغه هيله مو په سمه او مشروع توګه تر سره شوې وي له ټولو پلارونو، علماوو، مشرانو مسئوولينو څخه هيله کوو، چې دداسې رواجونو د ورکې لپاره کار وکړي. اسلامي او شرعي اصولو ته غاړه کيږدي، خپل بچيان او لوڼې د انتظار او ستونزو په لمبو کې ونه سېځي. په همدې هيله.

# يو کال څو ورځې کيږي؟

که څه هم د يو کال مفهوم ډېر ساده بريښي، خو که لږ څه زير شو کال ډېر خاص مفهوم او معنی لري، ځکه چې کاَل د لمر په شاوخوا د ځمکې له تاوېدو څخه را منځته کيږي، يعنې يو کال هغه مودې ته وايي، چې ځمکه يې د خپل انتقالي حرکت په دوران کې چې ۳۶۵ ورځې کيږي، تيروي؛ خو زموږ کال يعنې (د لمر په شاوخوا د ځمکې يو دور) د نورو سيارو چې د لمر په شاوخاو تاويږي فرق کوي، لکه څنګه چې پوهانو محاسبه کړې په ځمکه او نورو سيارو کې د ځمکې د کال په حساب د يو کال مفهوم دا ډول دی:

ــ د عطارد يو کال ۸۸ ورځې دی
ــ د زهرې يو کال ۲۲۰ ورځې دی
ــ د مريخ سيارې يو کال ۶۸۷ ورځې (يو کال او ۳۲۲ ورځې) د ځمکې د تقويم په حساب
ــ د مشتري سيارې يو کال ۴۳۴۴ ورځې (۱۱ کاله، ۳۲۹ ورځې)
ــ په زحل کې کال ۱۰۷۶۷ ورځې (۲۹ کاله شپږ مياشتې)
ــ د اورانوس په سياره کې يو کال ۳۰۶۶۱ ورځې (۸۴ کاله او يوه ورځ)
ــ د نيپتون په سياره کې يو کال ۸۹۸۸۵ ورځې (۲۴۶ کاله۹۵ ورځې) کيږي

نو؛ څومره به ښه وای چې د نيپتون د کال په اندازه مو يو لس کاله ژوند درلودلای، ورځ هم په نورو سيارو کې ټاکلې اندازه «وخت» خپلوي او خاص مفهوم لري، کيدای شي د الهي تقويم يوه ورځ زموږ د ځمکې له ميلياردونو کلونو سره برابره وي.

رالیږونکی: شهیر

# ملغلرې

د دې په ځای چې ټول عمر په تيارو لعنتونه وايې له ځانه يوه کوچنی شمعه جوړه کړه
له محال اوناممکن نه چاپوښتنه وکړه چې چيری اوسی ؟ هغه وويل : دعاجزانو په خوبونوکې
هغه څوك پياوړی ندی چې هروخت جګړه ګټي بلکې هغه څوك کمزوری دی چې تل يې سوله بايللې وي .
ترڅو چې ته بيا په پښو دربدلی شې په ناکامۍ مه خپه کيږه
په کوم کور کې چې کتاب نه وې هغه بی روحه کوردی.
سوله په خبرو اوتفاهم سره ترلاسه کېدلای شې نه په جګړې سره .
کله چې عدل ورك شي انسان هم بې ارزښته شي .
په دې نړۍ کې چې څوك په کم شې راضي شي هغه ته به ډېرسخت کارونه آسانه شي.
له ورو تګ څخه مه ويريږه، له دريدلو وويريږه .
ملګري د پيسو په شان دي، لاسته راوړل يې له ساتلو څخه آسانه دي .
کار ويرجنو او پريشانه افکارو ته د آرامۍ ورکولو ښه درمل دی .
بيا ځلې (تکرار) د مهارتونو مور ده .
هومره ماته خورم تر څو چې د ماتې ورکولو لار ومومم.

رالیږونکی: عزیر

# محمد يونس قانوني د پوهنې نهه ديرشم وزير

ګل آغا احمدي وردګ

ښاغلی محمد يونس قانوني له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۸۲ کاَل پورې د افغانستان د پوهنې د وزير په توګه دنده اجرا کړې ده. محمد يونس قانوني د محمد يوسف امان زوی په ۱۳۵۷ کا ل په پنجشېر کې زيږېدلی د پوهنې پر وزارت سربېره يې د



جمهوري رياست د لومړي مرستيال، د ولسي جرګې د رييس، د کورنيو چارو د وزير، د کابل ښار د استازي په توګه هم دندې اجرا کړې او ۱۳۸۰ کال کې يې د بن په تاريخي مجلس کې د شمال ايتلاف د استازي په توګه برخه اخيستې وه. محمد يونس قانوني د لومړنيو او ثانوي زده کړو تر بشپړېدو وروسته د کابل پوهنتون د شرعياتو په پوهنځي کې لوړ تحصيلات پيل کړل خو زده کړې يې نيمګړې پاتې شوې او له هماغه پيل څخه يې د پنجشېر په جبهه کې چې په اسلامي جمعيت پورې يې تړاو درلود، د وخت د رژيم او شوروي ښکېلاك په وړاندې جهاد پيل کړښاغلي قانوني د ملي شورا په پنځلسمه او شپاړسمه دوره کې د کابل ولايت څخه د ولسي جرګې د وکيل په توګه انتخاب شو او له ۱۳۸۴ څخه تر ۱۳۸۹ کال پورې د ولسي جرګې رييس وو. همدارنګه ښاغلي محمد يونس قانوني په ۱۳۹۳ کال هغه مهال د جمهور رييس د لومړي مرستيال په توګه و ټاکل شو کله چې د جمهوري رياست پخوانی مرستيال ښاغلی مارشال محمد قسيم فهيم وفات شو.

Weekly Marif Newspaper



Established 2002, Issue No 223, Month November 2017
Ministry of Education Cultural and Social Issue

# جلسهٔ شورای عالی قوای بشری، برنامهٔ اصلاحی وزارت معارف را مورد بررسی قرار داد

جلسهٔ شورای عالی قوای بشری به ریاست محمد اشرف غنی رئیس



جمهوری اسلامی افغانستان دایر و برنامهٔ اصلاحی وزارت معارف را مورد بررسی قرار داد.

در این جلسه که در ارگ انجام شد، ابتدا داکتر محمد ابراهیم شینواری معین تعلیمات عمومی و سرپرست وزارت معارف، پلان عملی وزارت معارف را ارائه کرد.

وی گفت که هدف این پلان عمل، تجدید تعهد وزارت معارف در خصوص اصلاح بنیادی سیستم تعلیمی و ساختن معیار به خاطر عملکردهای قابل تطبیق این وزارت می باشد.

داکتر محمد ابراهیم شینواری افزود: برنامهٔ اصلاحی وزارت معارف شامل اصلاح وظایف اساسی و تشکیل، منابع بشری، تدارکات، مدیریت مالی، سیستم معلوماتی مدیریت تعلیمی، کنترول و محو فساد، مصرف موثر منابع، نظارت و ارزیابی برنامه های وزارت معارف و تفتیش داخلی می باشند.

معین تعلیمات عمومی و سرپرست وزارت معارف در خصوص کیفیت و مرتبط بودن این برنامه اصلاحی گفت که این بخش پنج فعالیت از جمله اصلاح نصاب تعلیمی، چاپ و توزیع کتب درسی، آموزش معلمین، نظارت تعلیمی و استفاده از تکنالوژی در معارف را احتوا می کند.

وی همچنان گفت که بخش دیگری این پلان اصلاحی، دسترسی عادلانه به معارف است که فعالیت های عمدهٔ آن شامل تعلیم کودکان بیرون از مکتب، افزایش سهم سکتور خصوصی در معارف، عادلانه ساختن خدمات تعلیمات عمومی، اصلاح و توسعهٔ تعلیمات تخنیکی و مسلکی، سواد و تعلیم بزرگ سالان می باشند.

به همین ترتیب، وی در رابطه به ابتکارات وزارت معارف، افزایش سهم مردم در معارف، برنامه های تعلیمی برای مناطق محروم و پلان های آینده نیز توضیحات داد.

رئیس جمهور غنی در این خصوص گفت که وضعیت فعلی وزارت معارف پاسخگوی نیاز جامعهٔ ما نیست و ما ضرورت به برخی اقدامات در این عرصه داریم.

وی افزود: هدف اساسی این است که ما چطور در زمینهٔ بهبود و کیفیت معارف تغییر بیاوریم و با کار روی مودل های مختلف، این تغییر باید به وجود آید.

رئیس جمهور تصریح کرد که تشکیل فعلی وزارت معارف قابل تداوم نیست و باید تشکیل و وظایف این وزارت مشخص شود.

وی افزود که ضرورت به چند جلسه است تا روی وظایف کلیدی بخش های مختلف وزارت معارف، کار صورت گیرد.

رئیس جمهور کشور گفت که یک گروه کاری از ادارهٔ احصائیه و وزارت مخابرات در رابطه به وزارت معارف کار کند تا تعداد معلمین و امکانات موجوده به صورت دقیق مشخص شود.

وی خاطرنشان کرد: شوراهای که توسط برنامه میثاق شهروندی ایجاد شده اند، می توانند در تثبیت تعداد معلمین، نصاب تعلیمی و مکاتب کمک کنند.

رئیس جمهور گفت: از اینکه بیشتر از ۶۰ درصد کارمندان خدمات ملکی در چوکات وزارت معارف می باشند، مدیریت آن در توان این وزارت نیست و ضرورت است تا بخشی از وظایف را از چوکات این وزارت بیرون سازیم.

محمد اشرف غنی افزود: نصاب تعلیمی، تدارکات، مدیریت مالی، استفادهٔ موثر از منابع و مبارزه با فساد در وزارت معارف، ضرورت به کارهای بیشتر دارد و ما در این بخش ها باید دیدگاه ها و طرح های جامعهٔ مدنی را نیز داشته باشیم تا این بخش ها وظایف شانرا به شکل موثر انجام دهند.

رئیس جمهور در اخیر صحبت هایش گفت که وزارت معارف تا دورهٔ صنف دوازدهم تمرکز کند و باید برای دارالمعلمین ها و بخش های تعلیمات تخنیکی، بدیل های دیگر در نظر گرفته شود.

سپس داکتر محمد همایون قیومی مشاور رئیس جمهور در امور زیربناها، داکتر فیروزالدین فیروز وزیر صحت عامه، فیض الله ذکی سرپرست وزارت کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولین، مجیب الرحمن کریمی سرپرست وزارت احیا و انکشاف دهات، شهزاد اکبر مشاور ارشد رئیس جمهور، رحیل فرملی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف، اصیلا وردک معین وزارت امور زنان، انجنیر عبدالتواب بالاکرزی معین وزارت تحصیلات عالی و عبدالسبحان رووف معاون پالیسی ریاست عمومی دفتر مقام عالی ریاست جمهوری، دیدگاه های شانرا به تفیصل در رابطه به موضوعات مطرح شده، ارائه کردند.

# تدویر ورکشاپ ۱۰ روزه برای استادان تعلیمات تخنیکی و مسلکی

معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف، در محفل اختتامیه ورکشاپ آموزشی اصول و روش تدریس، امتحان و درجه‌بندی استادان



انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی که در تالار انستیتوت ساختمانی شهر کابل برگزار شده‌بود، اشتراک کرد.

در این محفل پوهندوی رحیل‌محمد فرملی، آگاهی‌داشتن استادان از اصول و روش‌های مدرن تدریس، امتحان و درجه‌بندی را مهم و حیاتی دانسته یادآور شدند که معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی خود را مکلف می‌داند که چنین ورکشاپ‌ها را راه‌اندازی نماید تا تمام استادانی‌که در چوکات این معینیت مصروف تدریس هستند، از شیوه‌های نوین و مدرن تدریس، امتحان و درجه‌بندی آگاهی حاصل نمایند.

این ورکشاپ که به مدت ۱۰ روز از سوی معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی برگزار شده‌بود، در آن ۴۳ تن از استادان انستیتوت‌های این معینیت از ۳۴ ولایت کشور اشتراک کرده‌بودند.

در پایان این محفل مقام معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی به اشتراک‌کنندگان تصدیق‌نامه اهدا کرد.

## دخواشینی‌پیغام

په ډيرې خواشينې سره مو خبر تر لاسه کړ، چې د لوګر ولايت د مرکز پل علم اړوند کمالخيلو د هلکانو د منځنې ښوونځي يو تن ښوونکی اسد الله د محمد الله زوی د نامعلومو وسله والو له خوا په شهادت رسېدلی. او همدارنګه د پروان ولایت د پوهنې رييس زلمي د سرک دغاړې د ماين د چاودنې له امله ټپي او د چاریکارو ښار د پوهنې آمر استاد عطا محمد متين په شهادت رسېدلی دی.

انا لله و انا اليه راجعون

خدای بښلی استاد اسدالله شاوخوا ۶۳ کاله عمر درلود او له ۱۸ کلونو راپدېخوا يې په بيلا بيلو ښوونځيو کې د ښوونکي سپېڅلې دنده په پوره ريښتينولي او صداقت پرمخ وړله.

ارواښاد شهيد اسدالله د لوګر په محمدي دارالعلوم کې د ديني علومو په څانګه کې نيمه لوړې زده کړې کړې وې او ديني عالم هم وو. او همدارنګه مرحوم استاد عطا محمد متين د الله محمد زوی په ۱۳۵۶ کا ل کې د بګرام ولسوالۍ د رباط دښتي په کلي کې زيږدلی او په ۱۳۸۱ کال کې د نعمان له ليسې څخه تر فراغت وروسته د ښوونکي په توګه مقرر شوی دی. نوموړی په ۱۳۸۹ کا ل کې د پروان له عالي دارالمعلمين څخه فارغ او په ۱۳۹۲ کا ل کې يې د البيروني له پوهنتون څخه د لسانس سند تر لاسه کړی وو.

خدای بښلي استاد متين د خپل عمر ۱۵ کاله د هېواد د بچيانو په روزلو کې تېر کړل او خپله دنده يې په پوره صداقت او ريښتينولي پرمخ وړله.

د پوهنې وزارت دغه دردونکې پېښه په کلکو ټکو غندي شهيد انو ته د لوی خدای (ج) له درباره فردوس جنت او کورنی او خپلوانو ته يې د زړه صبر غواړي. همدارنګه د هېواد له امنيتي ارګانونو په ټينګه غواړي، چې د دغې پېښې عاملين ژر تر ژره و نيسي او د قانون منګولو ته يې وسپاري.

مسوول مدير: محمد نسيم "عياذ"
کتنپلاوي: محمد کبير حقمل - معراج زماني - استاد گل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبريال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ديزاين بريالی رحمانزی
شمېر: ۵۰۰۰
ديجيتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ايميل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړيکو او عامه پوهاوي رياست، د پوهنې اوونيزې مديريت